# فتوی پر ضد د ځانوژنې په حیث دتکتیک جنگی

## شیخ ډاکتر عبد القادر الصوفی

17/02/2004

د ځانوژونکی له لوری لومړې خپلو خانواداؤ او دوستانو ته بی پناه غم و درد پیښنول، دویم د مسلمانانو عزّت ته زیان رسول او دریم د بعضې کفارو د دعوت اسلامی نه مخ اړونې په ترڅ کې ډیرو مسلمانانو رونړو او خویندو زمونږ نه ددې مسئلې په اړه د روښانه لارښوونې غوښتنه کړې ده.

په فقه کې د اُمّ المذاهب درجه لرونکی د اهل مدینې مکتب فکر کله چې د یو مسئلې په اړوند خپله فتوی جاری کول غواړی. نو د ټولو لومړې دا څیړنه کوی. چې ددی مسئلې اصل څۀ دی؟ او سرچینه یې څۀ ده؟ په دې غور کولو سره مونږ ته معلومیږی چې د ځانوژنې دا ټکې په دواؤ مفهومو دلالت کوی. لومړی دا چې ددی خپل حقیقت څه دې؟ او دویم دا چې ددې په عملی کیدلو سره څۀ اثرات راپیده کیږی؟ د خپل قانونی او اصلی حقیقت نه دی دویم حال ته ددی بدلون د مسلمان امت لپاره د اندیښنې وړ گرځیدلې دې.

بذات خود ددې عمل په مفهوم معلومولو کې څه ابهام نشته. چې ځانمرگې خپل ژوند ته د پایې ټکی پخپله ایږدې. په بله معنا دا د خپل ځان په خپله وژنه ده. د یو مشهور المانی لیکوال ایرنسټ یونگر په وینا: "دا د انسانی میراث برخه ده." او په انسانی نسل کې هر څوک دا دنده تر سره کولې شی. البته د بشردوستو او ملحدانو په نظر کې انسانی بدن د هغه ملکیت دې او ځانوژنه په انسانی حقونو د عمل کولو غوره روحانی تصدیق دې. ځکه چې دا یو حساس انسانی حق دې. لهذا ددې تقاضا ده چې تر ډیر حده په دوراندیشې سره

پرېږ غور و فکر اوشی.

لوړمبې خو مونږ د څېړنې کونکو نظر ته پام لرنه کوو چې په اصحاب الفطره یعنی طبعی، غیر صنعتی او غیر مالی اقتصادی ژوند تیرونکی خلکو کې د ځانوژنې په اړه هیڅ خبر په اوریدو کې نۀ راځی. په فطری ژوند کې د ځانوژنې عمل تر دې حده پورې ناقابل تصوره دې چې محض استثناء دا اصول ثابتولې شی. د پرمختللې ټولنې یعنی کومو چې خپل یو ټولنیز نظام قائم کړې دې. او کومو ته چې د قرآن پاک په ژبه کې اهل مدائن وویل کیږی - په افرادو کې د ځانوژنې عمل پیل شوې دې. په دې محض په نوم تهذیب یافته ټولنه کې د ځانوژنې عمل راپیده شوې دې. د ځانوژونکو مرکزی ټولنه په عامه توګه د لیونتوب په زمره کې شمیر کیږی. ددې مطلب دا دې چې لیونتوب د ځانوژونې یو عمومی علت دې.
معلومیږی چې د پاګل کیدو دوه صورتونه دی چې ددغې رنځولې کس د خپل ژوند ډیوه پخپله مړه کوی. او هغه د دواؤ انتهاؤ ترجمانی کوی. د ځانمرګې لوړمبې صورت لیونتوب یعنی د انتهاخوابنې نتیجه ده. لیکن دوېم صورت یې ددې پر ضد نومیدی او ناکامی ده. په کوم کې چې بې حسی او جمود دې. د اعصابی خلل یو بله درجه بندی د کوم په ضمن کې چې بعضی خلق هغه کسان هم شمیری. کوم چې د جنسی جذباتو یا مینې په نوم ځان وژنې. معروف لیکوال ویلیئم شیکسپیئر پخپله مشهوره نمایشنامه »رومیو اور جولیت« کې دا درد ناک صورت حال په تفصیل سره بیان کړې دې.

د ځانوژنې په یو بله زمره کې د زندانیانو ځانوژنه ده چې د کومې محرک حکومتی نظام وی. دا دیو خاص قسمه اعصابی مرض دې. چې د سلګونو کالونو راهیسی وجود لری او کله چې د حبس دورانیه زیاتره او تاریک تره شی نو د زندانیانو په ځانوژنې کې د زیاتیدو سبب ګرځی. د دوستویفسکی په لیکونو او روستو د سولژنیتس په شهادت کې ددې تفصیلی بیان شته دې. دې وروستی ذکر شوی لیکوال په خپل کتاب »دی ګولاګ آرچیپلاګو« کې د کمونستانو په نظام قیدوبند باندې تفصیلی رانړه اچولې ده. داسې

معلوميږی چې په دې ځانګړی ځانوژنو کې زيات شمير دداسې نوميدې له امله واقع شوې دی. چې د کومې په ترڅ کې چې د عقيدهٔ عدميه لرونکی وايی: د ځان بچ کولو لپاره بل څه چاره پاتې نه وه.

په دې مسئلې د تفصيلی غور کولو سره مونږ ته معلوميږی چې پيشرفته سرمايه دارانه نظام په کوم کې چې نن زمونږه بودباش دې دخپلې آخری پړاؤ څخه تيريږی. په دې نظام کې د ځانوژنې لپاره زيات کشش موجود دې. او تر دې حده رسيدلې دې کوم چې د عقيدهٔ عدميه يو مهمه او مؤثره سياسی چاره بللې شی. کومه چې هغه روښان فکره ډله تر سره کوی. چا چې عقيدهٔ عدميه او هم دغه ډول الحادی فلسفه سياست و اقتصاد قبول کړې دی. دا خبره ډيره ضروری ده چې په دی نوی دور کې د ځانوژنې عمل زياتره يهودی شکل اختيار کړې دې. د تاريخ په حوالې سره د نوميدی يا نهٔ تسليميدلو له امله هغوی په اجتماعی توګه ځانونه وژلی. د رومی ځواکونو د محاصرې په مهال په مساده کې د يهوديانو ځانوژنې زياتې شهرت لرې. هم په دې ډول د ناروچ او يارک د لويو مسيحی عبادتخانو والا ښارونو کې د مسيحی اذيت رسانې له امله د هغوی د ځانوژنو حادثې قلم بند دی. او ددې ډول ډيری پيښې د فرانس او المان په ګنړو ښارونو کې شوې دی. په موجوده زمانه کې د يهوديانو په ځانوژنو کې د مثبت تيزې له کبله يهودی روښان فکره بی نهايته انديښمند په نظر راځی. په دې کې ځينو مثلاً ماياکوفسکی، ناول ليکونکې اتالوکالوينو او سټيفن زويګ په بيلا بيلو حالاتو کې ځانونه وژلی وو. دنفسياتِ اطفال متخصص برونوبيتيلهيم ديو کنسټريشن کيمپ نه ژوندی او سلامت راوتې ؤ. ليکن د خلاصيدلو نه وروستو هغه د پلاسټک په خلته کې د سر په بندولو سره ځان وژلې ؤ. فلاسفر ويټجنسټين او د مارکس عقيده لرونکی التوسر هم ځانونه وژلی وو. او فلاسفر اوتووينګر د بيتوون په کور کې ځان وژلې ؤ. د ځانوژنی عمل محض د يهوديانو پورې اړه نه لرې. بلکه مسيحی روښان فکرو د ځانوژنې هغه لړې چې د ويرجينيا وولف نه پيل شوې تر ايرنتسټ هيمنګوائی او مونټرلانټ پوری رسيدلې ده. دې ټولو د ليکوالو ددغې بدنام رواج تقليد کړی ؤ.

په دې ځانوژنه کې د يو آخرى زمرې اضافه کوئ. د کومى پېژندړلو چې د ځانمرگو په منشاء و مراد پورى اړه لرى. او دا هغه کسان دى. چې په يو نوى زمره کې راځى. او ددغې گرافکس په ۱۹۳۰ کې د سرمايه دارې د نظام له زوال څخه بى له توقفه په پورته روان دى. اوهغه د قرض د ستونزو له امله ځانوژنه ده. په ۱۹۳۰ کې له لوړو برجونو څخه د نمايشى دانگونو نه تر هغه بې شماره مړو پورې چې د ناقابل ادا قرضونو نه کناره کش شو. او د يوى منگولې په ډکوالى د خواب آور گولو په زرامانت يې خپل قرضونه قلمزد کړه. همدغه شان سودى نظام د ځانوژنې يو ټولگى تشکيل کړې دى.

ددې پيښو نه دا نتيجه راوځى چې د ځانوژنې عمل، ددې فلسفه او طبى کارگزارى ددې مروجه ثقافت ناقابل تقسيمه برخې دى چې دهغې کردار په هر لحاظ سره منفى دې. او د ژوندن د حياتياتى وجود د خوداختياره نيستى نه دا وړاندې کولو مجبوره وى. او هغه د ځانوژنې عمل يا پخپل ځانوژنکى ته هيڅ ډول اهميت نهٔ ورکوى. او د هغوى لپاره ددې پراختيا له امله دغه ژوندى خلق، زمکه، ټولي، افراد، او انسانى عمل هيڅ قدرواهميت نه لرې. ځانوژونکې پخپله د بېقدره ټولى خلاف احتجاج نه کوى. بلکه د عقيدهٔ عدميه تائيدى بدلون پيش کوى. ممتاز متخصص نفسيات آر. دى. لينگ ددى تعريف په دې ډول کوى: "دا د خپل محبوب د نافرماني، بې حرمتي او جزائى کولو عمل دې. لکه چې ظاهره وى. 'اى تاتهٔ وايم! تا ما سره مينه اونکړه!'". فرانکويزى ساگن په خپل مشهور کتاب کې په ځانوژنه نيوکې کړې او ځانوژونکى سړې يى تورن کړې او ليکى: چې هغه خپل لاش د چا په مخ ورغورزوى او وايى: »تهٔ نهٔ وينې؟ زما د بچ کولو لپاره تا هيڅ هم اونکړه!«

ددې څخه مونږ دا نتيجه راوباسو چې ځانوژنه د نفرت د تجربې څرگندونه ده. او دا د خپل ځان نه د يو مکروه څيز په ډول د نفرت کولو انتها ده. خواه که ددې عوامل سياسى وى، ذاتى يا ليونتوب.

ځانوژني ته د مسلمان امت په آئينه کې کتل زمونږ بله ذمه واری ده. په آسانو ټکو کې وويل کيږی. چې د ځانوژنې هيڅ يو سند نشته. اګر چې ددې باعث د مسلمانانو د ټولنی ژوند يا څه بل څيز وی. بيا هم د مسلمانانو يوه ډله داسې ده. چې دکومې د دين څخه له اوريدلو له امله مونږ هغوی د مسلمانانو په ټولګی کې شميرلې نشو. په دې کې ځان وژنه د يو ټولنيز عمل په توګه راپورته شوې ده. اوهم دا ډله د اسلام د سيمونه وتلې نوميده هڅې کوی. چې د کفارو د مضبوطې ډلې سره خپلې اړيکی ټينګی کړی. او په دې ډول مسلمانان د خپل دين څخه خطا کړی. دا اسماعيلی فرقه ده. په سياسی توګه د اسماعيليانو حالات پيژندل زيات مهم دی. ځکه چې د هغوی پيژندرلو د هغوی تحريک دې. کوم چې محض د اسلامی فرائضو او د آسمانی وحي د اخلاقی او مهذبو پولو نه وتلې يو بهيمانه او مهمله آزادی ده. مونږ په دی خبره ځان پوهيولو ته اړتيا لرو. چې جغرافيائی لحاظ سره اسماعيليان په داسې منطقو کې آباد وُ. چې نن صبا ورته لبنان، اسرائيل او فلسطين وئيلی کيږی. له دې څخه معلوميږی چې د تاريخی اسماعيلزم نه د سياسی اسماعيلزم دې موجوده عمل پورې مونږ يو سيخ خط راخکلې شو. د اوسنی منځني ختيز په افق باندې د اسماعيلی فرقې هغه ويرانې مانړی په نظر راځی. دا د انحراف بالائی انحراف نتيجه ده. لومړې کوږولې زمونږ په نظر کې شيعه مذهب دې. کوم چې ددغې په تشکيل کې مرکزی رول لوبوی. او له تر اوسه خپل ځان په پانچ بناء اسلام پورې پيوسته ظاهره وی. بيا هم د مسلمانانو له عظيم وجود د نقطهٔ نظر نه مخالف يوه لويه غلطی کوی. او هغه هم تر آخر دمه د هغوی دخلافت نهٔ انکار دې. او خپلې يو فرقې لپاره بې دروازه پرانستلی. چې خپل انحراف ته په داسې ډول فراختيا ورکړی لکه څه رنګه چې روستو ذکر کيږی. دا د سلطانيه نهٔ انکار کول دی. کوم چې په خپله دائره اختيار سره مؤمنان د شريعت د اتباع پايبند جوړه وی. او په نتيجه کې د امر نه د منکريدو باعث جوړ شی. د انکار له لاری نهٔ بلکه د يو ناټاکلی امير په بدل سره. يو داسی ډول نقلی امير چې د اصلی امير مخالف وی او يو داسې امير چې څوک يې هم نهٔ پيژنی. يو داسې امير چې چا غوره کړی نه وی. يو وحشی سړې چې د

موجوده نظام نه جدا یو ځنګلی آزادی وړاندی کوی. د اسماعیلی مذهب آغاز په هغه وخت کې کیږی. کله چې مونږ د اسلامی ډول حکومت او امر هیر کړو. دې د کافر او مسلمان حاکم دواړو برابر وحشی مزاحمت کوی. هیڅ یو مسلمان قائد ته د ځوابدهی نهٔ لرلو له امله د اسلام د بشپړه بناء بیخونه نړاوی. او په ظاهره ادعا کوی چې مونږ د اسلام د دشمنانو په ضد مبارزه کوو. دوی د عیسایانو او مسلمانانو رهبر صلاح الدین نه خپله کرکه څرګنده وی. د اسماعیلی مذهب لومړې مهم کار کوم چې په جدید مفهوم کې پیژندل پکار دی. دا داسلامی فقهی او فقهاء نه انکار دې. او ددې په ځائي لکه چې وړاندی مونږ دحقیقی امر په هکله ذکر کړی ؤ، یو غیر حقیقی یا نقلی قیادت مخی ته کوی. په کومه توګه چې په غرونو کې اوسیدونکې بوډا خپل ځان پخپله انتخاب کړې دې. برعکس د خلیفه المسلمین د چا د ټاکنی تصدیق چې یو مشهور جماعت کوی. په څه ډول چې هغه د یو داسې جماعت سره چې د کومې نه اسلامی ټولنه بالکل لاعلمه ده، د لبنان په غرونو کې پټیدو. همدغه شان اسامه بن لادن د خپل نامعلومې عسکری ډلې سره په غرونو کې پټیږی. دا یو داسې پراسراره ډله ده چې کومې خپل پیشوا اعلان کړې او نهٔ یې بیعت عامه شوی دی. هم په دغه ډول یو پټ عسکری فرقه د فلسطین معاملات اداره کوی. ددې عوامی اړیکی محض د خپلو مړو په لاشونو د تکبیر نعری پورته کول دې.

د مسلمانانو قائد ددغې ټولنی فرد وی. په دې مفهوم کې اسماعیلی سرګروه د هیڅ یو ډلې یا کسانو رهبر نه وی. هغه په هیڅ حال کې هم حکمرانی نهٔ کوی. بیا هم هغه محض د تباهئ او ذاتی بربادئ لپاره غیر منطقی تحریکونه راپورته کوی. په دې مفهوم کې هغه په ظاهره د مهدی ډول محرک وی. لیکن په حقیقت کې د مهدی دښمن وی. ددې نهٔ معلومیږی چې شیعګان هم هغوی د کفارو پشان رد کوی. د اسماعیلی مذهب پټ اصول د شریعت بیخ کنی ده. او په یو کاهنی او ملکوتی علم سره ددغې بدلون دی. تر دې حده پورې چې د هغوی لپاره هر څیز جائز دې کوم چې د کفارو عقیدهٔ عدمیه ده. د ځانمرګی برید لپاره د استلو نه وړاندې هغوی ته داسې ډول دوایانې ورکول کیږی. کومې چې هغوی

د تشدد د فعالیتونو لپاره چمتو کوی. اختطاف کونکو او برغو برجونو ویجاړونکو ته د جرم کولو نه وړاندې شپه کې د ډیرو ترخو وډکا شرابو په څښلو او زناکارۍ کې بوخت لیدلې شوی وو. شراب څښل او جنسی آزادی کول د ځانوژونکو اسماعیلیانو اجرت وو. د یادګار هغه خاص اسماعیلی باغیچې د نام و نهاد شهیدانو د لاشونو لپاره ترتیب شوې وی. په قبرنو باندې عکسونه او د ګلونو امیلونه ایښودې شوی وو. ځوانان لومړې ددې شهیدانو په شان و شوکت کې د مراقبې لپاره لیږل شوی وو. چې هغوی هم د خپلو مشرانو په نقش و قدم د تلو لپاره چمتو کړی. بعینه هم دغه ډول مقبری په ننني وخت کې په فلسطین کې په نظر راځی.

مطلب دا دې چې دا نوی ځانوژونکی چې د کومې عقیدې لرونکې دی که چری ددغې په صحیح معنو کې څیړنه اوشی. نو د ټولو نه لومړې خو د فلسطین دولت یا اوسنی تشکیل شوی نقلی دولت کې څوک مسلمان پیشوا نشته. د فلسطین د محض په نامه حکمران مجلس د کارګزارۍ یا ټولنیز عادت له امله د اسلام سره اړیکې یې له وخت په تیریدو سره په ضعیف کیدو شکاری. په همدغه ډول د هغوی جنګی هدف د یو قومی دولت تشکیلول بذات خود یو مبغوضه امر دې. د مقبوضه زمکې د بازیابې امر په قرآن مجید کې موجود دی. لیکن جهاد فی سبیل اللّٰه په بشپړه توګه جدا شان لرې. ځکه چې د جهاد په نتیجه کې د اسلام بیرغ پورته په نظر راځی. او په نورو ټکو کې دا د یو داسې آزاد او اعلانیه امیر په قیادت کې پکار دې. چې د جهاد په مهمو او مؤکدو اصولو عمل کونکې وی.

دوه کاله وړاندی کله چې په جهانسبرګ کې ترتیب شوی کنفرنس کې د القدس مفتی په لوړمبی ځل د ګډون لپاره قصد اوکړه. نو درې قوتونه د هغه په لار کې مزاحم شو:
اسرائیلیان، سعودیان او د الفتح ارباب اختیار. ولې چې د هغه پیغام ؤ. چې اقصی صرف د فلسطینی دولت جاګیر نهٔ دې بلکې د ټولو مسلمانانو یو برابر ملکیت دې. په فلسطین کې د اسلامی حکومت د نشتوالی له امله په دغه ځائي کې اوسیدونکی خلک خپل ځان په یو

داسې حال کې احساسه وی د کومی نه چې د هغوی لومړنې ټولنۍ تیرې شوی دی. د چا مشری چې ډیر ژر یو داسې قوت تر لاسه کړه چې گمراه او ضد قیادت ؤ. د سرمایه دارې او اشتراکی نظام د مناظری په خاتمې سره دا خبره څرگنده شوه. چې د خپلواکې کافرانه قومی اصول د حمایت لپاره هیڅ یارومددگار نشته. له دی امله هغوی د یهودیانو د انتهائی بې رحمه او کافرانه قوم پرستې خلاف خپلې هڅی پیل کړې. او له دې وروستو هغوی د خپل تاریخی او پدری عادت نه په څرگنده توگه اخښستې شوي اسماعیلی سیاست غوره کړه. او دا بشپړه امید یې ساتۀ چې هغوی د خپل آخری هدف په لوری گامزن دی. کوم چې د اسرائیلو نوبل انعام یافته په دې ټکو کې بیان کړې دې:
«دوه هیوادونه امّا یو اقتصاد». ددې تفصیلاتو تر مخه یوې نتیجې ته د رسیدلو لپاره مونږ د لاندې ذکر شوی سوالونو یو نوې لړې سره مخامخ کیږو:

١ - ځان وژونکو ته فرمان څوک ورکوی؟
٢ - د کوم ډول خطرناک او دروغجن اجتهاد له امله دا د اسلام برخه گرځول شوی؟
٣ - دا خائنه فقهاء څوک دی او له کومه ځایه څخه هغوی د مسلمان امت لپاره د خپلو ځانونو فقیه کیدل اعلان کړې دې؟

راځې چې د هغه سړو او نن صبا د هغه ښځو حال ته هم پاملرنه اوکړو کوم چې ځانوژونکې ددی جرم د عملی کولو لپاره چمتو کوی. لومړی دا خبره معلومول چې آیا دغه کسان خپل ځامن ددې عمل لپاره لیږی؟ دویم دا چې هغوی خپل خوارږه بچی په ډډه کوی او د بل چا ماشومان دی قربانې لپاره روانه وی؟ او دریم دا چې دا به کوم عقلمند سړې وی چې پخپله دعمل کولو په ځائي یو ځوان د مرگ لپاره روانول اوغواړی؟ دا هغه سوالونه دی. چې ددغې ځوابونه یقینا تریخ او هیبت ناکه غگ لری. هغه آخری سوال چې ضرور بې پوښتنه پکار ده. هغه دا چې خپل مستقبل په نیستې کې د بدلونکی سیاست ممکنه نتیجه به څه وی؟ دا ځوان هلک او جینۍ د صبا مستقبل دې. ددې بهیمانه پیښو له وروستو د هغه

آئنده په نیستئ کې بدلیږی.

کله چې مونږ د اللّه جلّ شانه کتاب ته رجوع اوکړو. نو مونږ ته د ځانوژنې یوه حواله په درک راځی. او هغه د سورة البقره، ایت: ۵۴ :

"یاد کړئ کله چې موسی خپل قوم ته وویل چې «ای خلکو، تاسو د غوا د بچی په عبادت سره پخپل ځان سخت ظلم کړیدې، نو خپل خالق ته توبه اوباسئ. او خپل ځانونه مړه کړئ، په دې کې ستاسو د خالق په نزد ستاسو بهتری ده.» هغه وخت ستاسو خالق ستاسو توبه قبوله کړله. ځکه چې هغه ډیر معاف کونکې او رحم کونکې دې."

د اللّه تعالی په کتاب کې صرف دا یو ایت دې چې په هغې کې هغه جلّ شانه خپل مخلوق ته د ځانوژنې اجازة ورکړې ده. او دا هغه یهودیان وو چې د اللّه د حکم نه اوړیدلی ؤ. او د مال و دولت په پوجاپاټ کې مشغول شوی ؤ.

دویم ایت چې د هغی خلکو په ضد ناقابله تردیده ثبوت دې. کوم چې خپل ځان پخپله نیست و نابود کوی. او ددې له امله د اللّه جلّ شانه د ابدی مینې او مهربانی نه ځان محروموی. اللّه جلّ شانه د سورة الزمر په ایت نمبر ۵۳ کې فرمایی:

(اې نبی) "اوویه چې ای زما هغه بندګانو چې په خپلو ځانونو مو زیاتې کړې دې . د اللّه د رحمت نه نومیده کیږئ مهٔ. یقینًا اللّه ټول ګناهونه معاف کوی. هغه خو بخښونکې مهربان دې."

اللّه تعالی په خپل کتاب کې دا خبره هم ذکر کړې ده. چې د اللّه تعالی خوښ دی هغه خلک چې د هغه په لار کې صف بسته جنګ کوی. اللّه تعالی د جنګ اجازه ورکړې ده.

لیکن هرگز د نومیدئ نه ډک عملونه نهٔ خوښوی. ځانوژنه د اللّٰه تعالی د ذات سره پوخ ایمانی تعلق او پرقوته محبت نهٔ ساتلو ثبوت دې. په کومو صفتونو چې د دین بنسټ ایښودې شوې دې. او له کومه بغیر چې د مسلمان امّت نشوونما ممکنه نهٔ ده.